# د "ویښ زلمي" ملي مترقي نهضت

# ویاړلی غړی



## مولوي بهرام خان اڅکزی

۱۸۹۰ - ۱۹۷۵ م.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

# مولوی بهرام خان اڅکزی

د افغانستان په ډیره بیا د کندهار په سیاسی تاریخ کی ښاغلی مولوی بهرام خان او حاجی محمد انور خان اڅکزی د شلم قرن په لومړی پنځوس کلنه موده کی د قدر وړ ونده (حصه) درلوده، خصوصاً د سقاوی په خانه جنګی کی. او هم د هیواد په سیاسی نهضتونو کی دوی دواړو اوږه پر اوږه د ویښ ځلمیانو په تحریک کی کار کړی دی. او که وویل شی چی دوی دواړه د دی تحریک روح روان وه، مبالغه به نه وی.

مولوی صاحب بهرام خان په ۱۸۹۰م ی زیږیدلی او په ۱۹۷۵ کی په



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

کندهار کی وفات شوی دی. دوی د سپین بولدک په اولسوالی کی د «موله ید» یا (مولیّد) په کلی کی لومړنی زده کړه کړی دی. وروسته بیاد نور تحصیل د پاره وه .ډیلي (هندوستان) ته تللی دی. او هلته ئی د فلسفی او منطقو ډگری تر لاسه کړی ده. او هم په فقه کی ئی ښه معلومات درلود .

دی د افغانستان په سیاسی مصائیبو کی ځان ندی ژغورلی او هر وار ئی د خپل سر په سودا گډون پکښی کړی دی. کله چی په هیواد کی داخلی خانه جنگی د سقاوی په نامه جاری و . دی ځان وه ته سپماوی او هم د ویښ ځلمیانو په پاڅون کی.

په سقاوی کی دی او نور اڅکزی مشران، د غازی امان الله خان په طرفداری راپورته شول او د کافی مبارزی وروسته دوی موفق شول چی د کندهار تر ښاره ځانونه را ورسوی. کله چی دوی کندهار فتح کی، د کندهار نورو اقوامو هم ددوی ملا تړی وکی، او د کندهار د ښار دروازی خلاصی شوی ،سقاویانو ماته وکړه، په دی وخت کی دی د کندهار د عدلیی قاضی وو.

څرنگه چی دا وقت د گډوډی وخت وو، او شکست خورده وطنوالو (سقاویان) باندی پر ځای ظلم کیدی. نو یگانه سړی دی وو، چی په سل هاو سقاویانو ته ئی نجات ورکی. او سقاویانو هم تقریباً ده ته پناه راوړی وه، ده په سقاویان د اعتمادی اڅکزو په لاس د قلات پر لور لیږل او هلته ئی په غرو او رغو کی هیله کول، او سند به اڅکزو بیرته وه ده ته راوړی.

خو کله چی غازی محمد نادر خان بیعت تر لاسه کی، نو کندهار هم مقاومت و نه کی او خپل بیعت ئی وروه لیږی.

مولوی صاحب خلکو ته تدریس هم کاوه، لومړی دوی د کندهار په



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

خرقه شریف کې درس ورکاوه بیا په خپل ابائی مسجد کې ، چې د کور د څنګه ئې واقع وو ، دی په مذهبی امورو او سیاسی چارو کې د خپل وقت یو رسا شخصیت وو.

څرنګه چې زما د دوی سره ناسته ولاړه ډیره وه ، نو ځان ته دا حق ورکوم چې دده پر طبع هم ورږغیږم.

دی په طبیعت کې متین ، ثابت قدمه ، او د « یوی خولی » سړی وو د وطن سره ئې ډیره مینه لرله ، د هیواد په هره ښه خبره او ترقی ډیر خوشحالیدی. او په بد ئې هم ډیره خوا بدیدی ، دی یو ډموکراټ سړی وو ، او هم دغه وجه وه چې دی عملاً په ۱۹٤٦ کې د ویښ ځلمیانو په تحریک کې فعاله برخه واخیستله ، په دی وخت کې دی په کابل کې د مرافع قاضی هم وو . دی د خپل جاه و جلال هیڅ لحاظ و نه ساتی او په ملی سیاسی چوپړ کې د پروانی په شان ورګډ شو ، کله چې په سر کې د ۱۹٥۲ م کال کې ویښ ځلمیان جوپی جوپی بندیان کیده ، نو دی هم ګرفتار کړه شو ، دوی یولس (۱۱) کاله بند وګالی ، او په ۱۹٦۳ کال کې د کابل د « دهمزنګ » د بندیخانی څخه راوه وتی چې صحت ئې کافی د لاسه ورکړی وو ، نور نو د دوی سیاسی نقش په هم دغه ځای وه پای ته رسیږی.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017